ډاکټر لمر افغان ۲۰۱۱/۱۲/۲۱

# افغاني دولتي سيستم د افغاني ټولنيز اخلاق په لومه کی

په نړيوالو رسنيو کی می ولوستل، چی په سعودي عربستان کی شپږ تنه د بانديتيزم په ګرمتيا د اسلامي شريعت له غوښتنو سره سم په سزا رسول کيږي. مګر کله چی ما د دغو خلکو په اړه د سعودي عربو قضايي پريکړه ولوستله، نو هيښ پيښ پاتی شوم، ځکه چی د دغو خلکو ښی لاس بايد له دوو بندو بيل او پری شي او بيا يی کينه پښه غوڅه شي. دغه اشخاص د ۲۰ تر ۳۰ کلونو عمر لري. زه په دی پسی نه ګرځم، چی دغه مجرمين به څه احساسوي يا به يی پښی او لاسونه پری کيږي، مګر له دغه پيښی وروسته د هغوی د ژوند او مراقبت پړاونه د کورنيو غړو او ټولنی لپاره ډير زړه بوږنونکي او ستونزمن دي.

زه لکه يو ډاکټر غواړم د دغسی پيښی په اړه، کله چی د يو انسان لاس او يا پښه قطعه شي، نو له کومو ستونزو سره مخامخ کيږي، لږ روښنايي واچوم. ما به تر ننه له څو زرو ډير خلک عمليات کړي وي، خو کله چی د يو انسان د لاس يا د پښو د پری کولو موقع راورسيږي، نو دغه بدمرغه خبر ناروغ ته په آساني نشي ويل کيدلی، نو له ناروغ سره د څو پړاونو په ترڅ کی دغه خبره يادیږي، ځکه چی وروسته له عملياته د انسان په ژوند کی ډير داسی بدلونونه راځي، چی انسان له ډيرو سايکولوژيکي، کورني او ټولنيزو ستونزو سره مخامخ کوي.

وروسته له دی چی د پښی يا د لاس د پريکولو موافقه له ناروغ سره وشي، نو لومړی خو ناروغ د ګڼشمير نورو ډاکټرانو لکه سايکولوژيست، د ريوليديشن (بيا رغاونی) ډاکټر، اورتوپيد، فيزيوتيراپيوفت او کورني کارپوه سره مرکی تر سره کوي او وروسته له دی د عمليات مالومات تر لاسه کوي او بيا له غوښتنی سره سم عمليات تر سره کيږي، چی وروسته له عملياته ناروغ د څو مياشتو په اوږدو کی ورو ورو بيرته ټولنيز ژوند ته وراوړي او بيا هم خپل نيمګړی ژوند پر مخ بيايي، خو اسلامي قاضيان هسی د يو چا سر پری کړي او يا يی غړي ورغوځ کړي، د دغو پيښنو ټولنيزو عواقبو ته بيا پام نه کوي، چی په ټولنه کی بيا څه کيږي، نو اوس به راشم دی ته چی وروسته د پښی او يا هم لاس له پريکولو کومی ستونزی د يو انسان په ژوند کی رامنځ ته کيږي او کوم عاقبت د کورني ژوند او ټولنيز بهير ته لري، نو هره ستونزه به بيله ياده کړم:

۱ ـ د عمليات او له عملياته وروسته ګواښونه: د عمليات په ترڅ کی د خونريزي او يا هم د بی سدي د درمل له کبله کيدلی شي يو انسان خپل ژوند له لاسه ورکړي او يا هم وروسته له عملياته د زخمونو له شړيدلو او يا هم زوی نيولو سره مخامخ شي، چی د بل عمليات د تر سره کولو ګواښ رامنځ ته کوي او پورته نومولشوی ستونزی نوری هم پياوړی کيږي.

داسی به ګومان وکړو، چی عمليات نتيجه ورکړه او د زخم لومړنی درملنه، چی کوکونه تری لری شي، نو دری اونۍ په دربر کی نيسي، خو د ناروغ درمل لا هم نه دی تر سره شوی. وروسته له ۳ اونيو ناروغ په پرمختللو ملکونو کی د بيارغاونی پالنتونونو ته استول کيږي، خو په وروسته پاتی ملکونو کی هسی کور ته استول کيږي. وروسته له ۳ مياشتو د دی امکانات رامنځ ته کيږي، چی غوڅی شوی پښی ته ساختګي پښه يا پروتيز جوړ شي او بيا به ناروغ د ۳ مياشتو په بهير کی تمرينات کوي، چی وکولی شي له ساختګي پښی سره وګرځي، نو بيا هم ژوند ورته نيمګړی پاتی شي، مګر په شرعي قضايو کی د پښو او لاس پری کول پرته له بی سدي تر سره کيږي او د بيارغاونی پروګرامونه خو هسی هم ورته نشته.

کله چی د يو انسان يوه پښه پری شي، نو د هغه په ماغزو کی د بشپړی پښی انځور او احساس موجود وي، چی دغه ناروغان پرته له سمی روغتيايي رهنمايي او تمريناتو په ډيره آساني لويږي او د پښی زخمونه يی خلاصيږي، چی د زخمونو په درمل يی ډير وخت تيريږي او تر ټولو بده بيا دا ده، چی کيدلی شي دغه پښه بيا عمليات شي او نوره هم لنډه شي او دا هم کيدی شي، چی زخم خوړين شي او ميکروبي شي، چی دا بيا ډير ستونزمن حالت دی، چی د ناروغ له مرګ سره مله پيښه ده، خو مسلمان مجرمين په بنديخانو کی او يا هم په کوڅو کی وراسته شي.

۲ ـ د پښی د پريکيدلو سايکولوژيکي ستونزی: د ناروغ لپاره د پښی پری کيدل، کيدلی شي د هغه د هيجانيتوب سبب وګرځي او ناروغ حتی په ځانوژنه لاس پوری کړي، ځکه مخکی له عملياته له ناروغ سره د کورنۍ د غړو سر بيره بيلابيل روغتيايي چارواکي مرکی کوي، چی ناروغ عمليات ته سم آماده شي او له دغو ناخوالو وژغورل شي. ناروغ ته د پالنتونونو په اړه هر اړخيز مالومات ورکول کيږي او د بيا رغاونی مرکزونه ورته ښودل کيږي، خو په اسلامي نړۍ کی د جوړ سړي پښی هسی ورقطعه کړي او بيا يی په ټولنيزو ستونزو کی ډوب کړي.

۳ – کورنۍ ستونزی: وروسته له دی، چی ناروغ له پری کړی پښی سره خپل کور ته ولاړ شي، نو بيا دغه ناروغ هغه سړی يا ميرمنه نه ده، چی په دوو پښو ګرځيدل او يا يی دواړه لاسونه درلودل. په کورنيو چارو کی هم له


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

ګڼشمیر ستونزو سره مخامخ کیږي. د بیلګی په توګه که د یو انسان لاس قطعه شو، نو د پرتوګاښ (آیزاربند) خلاصول اویا تړل به یی د رفع حاجت، اوداسه او جامو بدلولو په ترڅ کی څوک تر سره کوي؟ ستاسو ځواب به وي، چی محرم یا محرمه یی، خو داسی ګومان وکړی، چی دغه معیوب شخص مجرد دی، کونډ دی او یا څوک نه لري بیا به څوک مرسته ورسره کوي؟ بیا به وایی چی پرتاګه ته دی لاشتک واچوي!

د کورنۍ غړو ته د ناروغ د یوی پښی پری کول له عصبي تشنجاتو سره مله پېښه ده. په کورونو کی د ترینګړتیا امکانات رامنځ ته کوي، په کورنیو کی جنګونه پیښیږي، چی دغه معیوب کس کیدلی شي د کوڅې ژوند ته اړ شي. بیا به یاده کړم، چی په پرمختللو ملکونو کی د دغو خلکو لپاره هم پالنتونونه جوړ شوي، نو که له کوره بیزار شي، نو دغه پالنتونو ته استول کیږي او مراقبت یی د پالنتونونو د چارواکو لخوا تر سره کیږي او ژوند یی بیمه دی، خو په افغانستان کی دغه خلک د کوڅه ډبو د ریشخند مظهر شي.

تر ټولو ستونزمن ژوند د ناروغ د میرمن وي، ځکه چی د مراقبت تر څنګ د کور د دوډۍ ورکولو وظیفه یی هم تر غاړی کیږي او تر ټولو ستونزمنه ورته د خپل خاوند سره په ځای کی پریوتل دي، ځکه چی خاوند یی نور هغه بشپړ انسان نه دی، چی مخکی له عملیاته وو. لنډه دا چی د پښی او یا د لاس پری کول په ټولنه کی ډیری نوری ستونزی هم رامنځ ته کوي، چی په هیڅ اسلامي مملکت کی یی د حل لپاره شرایط نه دي جوړ شوي. نن سبا په افغانستان کی له څو میلیونونو ډیر معیوبین شته، چی د ژوند له خوالو او ناخوالو سره لاس او ګریوان دي، خو که د لویدیز ملکونو د اروتوپیدیک مرستو لړۍ له ۱۹۸۶ میلادي کاله په افغانستان کی فعاله نه وی، نو نن سبا به ډیرو معیوبینو ساختګي پښی هم نه درلودلی او خدایزده چی څه حال به یی وو!

په ټولنه کی د پالنتونونو لګښتونه: د یو ناروغ، چی پښه یا لاس یی پری شوی وي، نو لږ تر لږه تر یو کاله د بیا رغاونی په بهیر کی وي، چی لګښت یی ډیر زیاد دی، خو په ډیرو پر مختللو ملکونو کی د روغتیایي سیستم په برخه کی ګڼشمیر مجهز پالنتونونه جوړ شوي، چی د ستونزمنو ناروغانو په بیا رغاونه کی غوره رول لوبوي. د هغه ناروغانو لپاره چی پښی یی پری شوی وي او یا لاسونه، نو د هغوی لپاره ډیر ښه د بیارغونی پروګرامونه او سامان آلات لري، خو په نړۍ کی له ۶۰ ډیر اسلامي ملکونه شته، چی د شریعت پر اساس د ګڼشمیر خلکو پښی او یا لاسونه ورپری کوي، خو بیا یی د قسمت کنډولی ته ورټیل وهي، چی هر څه پری وشول هغه پری وشول او خپله ټولنه هم له ګڼشمیر ستونزو سره مخامخ کوي، په پښتو کی متل دی، چی «په زور پلونه نه جوړیږي».

په ټولنه کی ډیری پیښی داسی دي، چی باید ټول اړخونه یی په پام کی ونیول شي. په ډیرو اسلامي نومي ملکونو کی د سیکولوریزم، دودیز او مذهبي دولتي سیستمونو اړی دوړی رواني دي، چی ډیر یی ټولنیزی اخلاقي ستونزی لري. په اسلامي ملکونو کی د تورکیې دولت او ګڼشمیر نور سیکولیر کرکتر لري، مګر ډیرو نورو ملکونو کی له دود سره سم اسلامي شریعت (سني/شیعه او داسی نور شریعتونه) او خپل دودیز کړه وړه ګډوډ کړي دي، چی په ټولو ملکونو کی په زور په خلکو تحمیل شوي دي، خوپایله یی هغه څه ده، چی په اسلامي نړۍ کی یی موږ وینو، نو څه چی کری هغه به ریبی!

زه له شریعت سره هیڅ ستونزه نه لرم، ښه ویل شوي، چی غل نه وی له پاچا هم مه ویریږه!، مګر ستونزه دلته ده، چی اسلامي ملکونه د بیلابیلو مذهبونو په تبۍ تاوده دي او هره ټولنه خپل اسلام، خپل تفسیر او اسلامي تعبیر لري، چی موږ پکی حنفي یو، خو یو شی د اسلام ډوله ټولنی ټولیز دی، هغه دا چی د غله لاس پری کړي، میړوښه ښځه وروسته له زنا په تیږو وولي، پیغله او یا نا میړوښه بیا په دورو یا متروکو ووهي، همجنسبازان له غره ښکته راوغورځوي، چیری چی غرونه نه وي، نو دیوال پری چپه کړی، خو هیڅوک نه پوهیږي، چی دیوال پوخ وي او که له خټو کومه پخسه وي، خو پایله یی یو شی ده، یانی د زنا کار وژنه او بس.



پر ما به هم یو شمیر کومه ګرده، سه کونجه یا چارکونجه ټاپه ووهي، خو یوه خبره ډیره غوره ده، چی په بحث کی ریښتیا راڅرګندیږي او د حل لاره موندل کیږي. د پورته یادشویو جنایتونو لپاره د دی سپارښت کیږي، چی د هری ستونزی شالید باید وڅیړل شي او له علت او سبب سره یی سم چلند وشي. د ټولنی د سوله ییز ژوند لپاره باید بشري ارزښتونه پیاوړي شي، چی انسان خپل موقف ونیسي یانی د اشرف المخلوقاتو ځایناستی شي، نه لکه نن سبا چی په افغانستان کی زورواک، قاچاقبر، قاتل اورزیل په خلکو واک چلوي او سپیڅلي افغانان یی قرباني دي، خو سپیڅلیو ته هم پکار ده، چی لاس تر زنی کیني او د افغانستان د ژغورلو لپاره لاس راونغاړي!


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

درنو لوستونکو! زه په يو شي نه پوهيږم، چې ولې په اسلامي ټولنو کې يو سم اداري دولتي سيستم نه رامنځ ته کيږي او د هغو ستونزو په اړه څيړنې نه تر سره کيږي، چې دغه ټولنې ورسره لاس او ګريوان دي او يا يې د دغو ټولنو د انارشي له ګواښونو سره مخامخ کړې دي. ما پرته له افغانستانه په بيلابيلو کفري ملکونو کې هم ژوند کړی، له کمونيستي ملکونو رانيولې بيا تر کپيتاليستي او امپرياليستي ملکونو پورې. په دغو ټولنو کې هم ډيرې ستونزې شته، خو زما په شخصيت څوک تيرې نه کوي، د خپلو اسلامي مناسکو لپاره د دې امکانات لرم، چې جومات ته ولاړ شم او يا په خپل کور کې خپل اسلامي عبادت وکړم.

بايد ياده کړم چې زما ستونزه د اسلامي بيلابيلو فرقو له پيروانو سره ده، چې ما دې ته اړ کوي، چې بيا يې جومات ته ور نه شم. د بيلګې په توګه د يوې مذهبي فرقې جومات ته تللې وم، وروسته د ماسپښين له لمانځه يې په اوردو ژبه نعتونه پيل کړل او بيا يې يوه حلقه ووهله او په جومات کې په يو او بل پسې ګرد تاويدل او ما ته يې هم برګ برګ کتل، چې ورسره ګډ شم، خو زه هم وروسته له لمانځه او دعا له جومته ووتلم. په کابل کې خو تاسو وليدل، چې د شيعګانو د کوڅو سينه کشيو، د سړکونو پوشاپونو او ځان وهلو پايله هم د کوڅو لړل په وينو شول او وروسته له ۱۴۰۰ کلونو بيا هم دغه ورځ په وينو لمانځل کيږي.

زما ليکنې د ټولو مسلمانانو لپاره راجع نه دي، خو په افغانانو مې زړه خوږيږي، نو ځکه ورته ځينې پيښې له خپل نظر سره سمې سپړم، په دې هيله، چې کيدې شي زموږ دغه بدمرغه هيواد چې دا دي له دريو لسيزو ډيره موده کيږي، چې په وينو کې لمبول کيږي، د ستونزو د حل لاره پکې وموندل شي او موږ وکولی شو، خپلو هيوادوالو ته يو هوسا ژوند ورپه برخه کړو. دغه موخې ته د رسيدو په تمه زه هم کله کله ټولنيزې ليکنې کوم.

زما د يوې ليکنې په غبرګون کې يو خواخوږي د دې وړانديز کړی وو، چې پخپله بله ليکنه کې د افغاني داسې دولت جوړيدنې وړانديز وکړم، چې ټولو افغانانو، ګاونډيانو او نړيوالو ته د منلو وړ وي، خو له خواشيني سره بايد ياده کړم، چې دغه پديده يا ټولنيزه وجيبه زما له سويې ډيره پورته ده او له بل پلوه زه بايد ځان ته د دې واک او اختيار هم ورکړم، چې د افغانستان په سياسي خړوبه ورګډ شم، خو له بل پلوه داسې ګومان کوم، چې د دغه يو دوست زړه هم ونه غورځوم او که يې ټوکه کړې وي، نو بيا خو د زړه د تناکې ويلې کول دي، نو زه به هم د څو کرښو په تورولو يو څه وليکم، که د حل لاره نه وي پکې، مګر د سوچ او شاربلو لپاره به يوه پلمه شي.

زه څه موده مخکې د افغانستان د شمالي سيمو تر لسو زياتو ولايتونو ته تللې وم او له هغې مخکې له کابله تر کندهاره او بيا تر جلال آباده مې هم يو سفر درلود، نو طبيعي خبره ده، چې د خلکو په ژوند کې مې ډير څه وليدل او د عاميانو او سالارانو ژوند مې هم له نيژدې وليد او په يو شمير غونډو کې مې ګډون هم وکړ او د ودونو په ليدلو مې سترګې هم مړې کړې، نو اوس که څه ليکم زما د ليد په شاليد کې به يې څرګندوم.

په پښتني سيمو کې، زما موخه جنوبي سيمه، جنوب غربي سيمه، شمال شرق سيمه ده، چې پښتانه پکې ډيرګړي دي او په شمال کې بيا پښتانه لږکي دي، خو په ټولنيز ژوند کې بيا هم ډيره غوره برخه لري، مګر يوه خبره په زړه پورې ده، چې په شمال کې د عادي خلکو په منځ کې ټولنيز فشار نه ليدل کيږي. ډير پښتانه خپل ورځنې ژوند تيروي او دولتي ادارو کې کار کوي، خو د دريو لسيزو په بهير کې ګڼشمير پښتانه له سيمې بې ځايه شوي، چې علت يې جګړه ده، ځکه کمونيستي، جهادي او امريکايي ناخوالې پښتنو ته په ميراث رسيدلې دي، نو پښتانه به يې شاربي، ځکه چې نن سبا امريکايان هم خپل دوښمن د پښتنو په هويت کې ويني، نه د افغانستان د لږکيو په شتون کې.

په پښتني سيمه کې بيا بدمرغي په بل ډول ده، هغوی داسې ګومان کوي، چې په شمال کې پښتانه ډير کم دي او دا سيمې د نورو دي، مګر داسې نه ده. په شمال کې پښتانه د خپل هويت او شتون جوګه دي، خو که په جنوبي پښتني سيمو کې بې اتفاقي وي، نو په شمال کې د پښتنو د ځپلو ګواښ هم پياوړی کيږي، نو د افغانستان د ستونزو په حل کې د پښتني سيمو د پښتنو اتحاد او يووالې ډير غوره ګڼل کيږي. يو شمير پښتنو په خبرو اترو کې يادوله چې د شمال سيمې دې اقليتونو ته ورپريښودل شي، خو د استدلال شاليد يې د شمال پښتنو په اړه نا پوهي وه، چې شمالي سيمې ته د پښتني سيمو د پښتنو نه راتګ دی.

د پياوړي افغاني دولت په جوړيدنه کې په پښتني سيمه کې همغږي او يووالې حتمي دي. دا مهمه نه ده، چې دوی له طالبانو سره دريږي او که له مرکزي دولت سره، په دواړو بڼو سره د افغانستان د اداری د پياوړي کيدلو امکانات رامنځ ته کيږي، خو که پښتانه لکه نن ويشل شوي وي، نو په افغانستان کې د يو پياوړي دولتي سيستم رامنځ ته کيدل نا ممکن دي. د افغانستان حياتي ستونزه د ټولنې وده ده، چې پرته له تخنيک او تکنالوژي نه کيږي، خو د پرمختګ لپاره امنيت ته اړتيا ده، چې بيا د ډيرګړي ټبر په يووالي يانې پښتنو رامنځ ته کيدلی شي.

افغانستان يو اشغال شوی مملکت دی، نو د خپلواکي لپاره نظامي مبارزه اړينه ده، خو د ټوليز دوښمن په مقابل کې بيا هم د پښتنو يووالې اړين دی. افغانستان بايد د مافيايي سيستم له اداری راووځي. نن سبا هره ډله يو شمير وسلوال خلک لري، چې په دولت کې يې منګولې خښې کړې دي. له دغه مافيايي سيستم نه هم د خلاصيدو لپاره بايد پښتانه اتحاد وکړي، پرته له دې دا هم ناشونې ده.

په ټولنه کې د اداری لپاره ګونديز سيستم ته اړتيا ده، ځکه چې د ګوند په کړنلاره اوبنسټ ليک کې د هر ګوند غوښتنې څرګندې وي، چې د پښتنو له همغږي او يووالي سره بل هيڅ داسې ګوند نه شي رامنځ ته کيدلی، چې د


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغانستان له ملي ارزښتونو (د افغانستان ملي ژبه پښتو، د افغانستان ځمکني بشپړتیا او د اسلام مقدس دین) سره په ټکر کی وي او یا هم د خاور زمین یا قومي فدراسیونونو خوبونه څوک په سر کی تیر کړي.
د افغاني ټولنی لپاره باید هغه تورمخي سیاستوال چی بیلا بیل ټبرونه یی یرغمل کړي، تجرید شي او پر ځای یی ځانګړوه او صادق اوزبک، تاجک، هزاره، پشه یي، تورکمن او پښتانه لکه ټولنیز سمبولونه وروزل شي او په دولتي سیستم کی وګومارل شي، چی دغه کار پرته له یو ملي ګونده نا ممکن ده. ځانګړوه اداره د یوی ټولنی د سمی اداری د سوله ییز ژوند تضمین ده. زه به د روغتیایي سیستم په اړه لږ رڼا واچوم، چی د ځانګړوهنی په برخه کی یو ټولیز نظر جوړ شي.

- روغتیایي زده کړی (پوهنتونونه)
- روغتیایي ځانګړوهنه (داخله، جراحي، عقلي عصبي.... د دغه ټولو لپاره کلینکي روغتونونه)
- د روغتیایی سیستم د منجمنت یا مدیریت مسلکي کارپوهان
- روغتیایی سیستم (اداري واحدونه، روغتونونه، درملتونونه، ډیپو ګانی، نشرات، ګرځنده واکسینیزیشن، د چاپیریال حفظ الصحه او داسی نور)، نو دغو ټولو ته د مسلکي خلکو اړتیا ده، نو همدا ډول د ټولنی د ښوونی او روزنی سیستم، اقتصادي، قضایي او نورو سیستمونو ته ځانګړوه چارواکي پکار دي، نو په ملا، قاري، تورن اسماعیل، رشید دوستم او داسی نورو دولتي اداره نه جوړیږي، ځکه نو دا به مو حال وي، لکه نن سبا چی په افغانستان کی دی.

پایله
افغانستان له مسلمانانو ډک ملک دی، مګر اسلامي ملک نه دی، ځکه د اسلام هیڅ قانون په افغانستان کی نه دی پلی شوی. په یوه ټولنه کی د کورنی جوړول یو ټولنیز واحد ګڼل کیږي، خو له بده مرغه په افغانستان کی د لګښتونو له کبله دغه ټولنیز واحدونه له ډیرو ستونزو سره مخامخ دي. په افغانستان کی هلکان نځول کیږي، نجونه، ښځی اخلاقي فساد ته لمسول کیږي، چی دغه ټول کارونه د اسلامي ټولنی سره منحرف دي. په افغانستان کی د انسان بشري ارزښتونه تر پښو لاندی کیږي، نو دغه ټول د یو غیر اسلامي او غیر انساني ټولنی کړه وړه دي، چی په افغانستان کی په پریمانه پیمانه تر سره کیږي، چی د پارسي له یوی اصطلاح سره سمون لري «هره کاره باش با خدا باش».
د افغانستان د سمی اداری لپاره د یو کارپوه دولت رامنځ ته کیدل اړین دی. د دغه موخی لپاره باید ځانګړوه افغانان په یو ګوند کی راټول شي، چی د افغانستان د اداری لپاره جوت ګامونه واخلي. افغانی رسنی باید د دی هڅه وکړي، چی د افغانستان په ټولو ټبرونو کی د صادق، ځانګړوه او په افغاني ارزښتونو مین خلک د ټولنیز سمبولونو په بڼه ټولنی ته وروپیژني، چی د افغانستان په اداري چارو او ملي ګوند کی ورګډ شي. د افغانستان د ټولنیزو ستونزو (حرص، سیالي، اصراف، بی حرمتي) په اړه سمی څیړنی وشي او خلکو ته په زغرده یادی شي او ستونزو ته د دودونو پرده وروا نه اغوستل شي.
په پای کی دغه فلم هم وګوری، چی څوک په پیسو کی ډوب دي او څوک بیا په وینو کی لامبي!

په درنښت

http://www.youtube.com/watch?v=2qa_AzgBgNA&feature=related


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنی د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ